# اِحساسِ کمتری

## (داحساسِ کمترئ یو څو وجوهات او علاجونه)

**13-January-2022**



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډك بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# اِحساسِ کمتری

## (د احساسِ کمترئ يو څو وجوهات او علاجونه)

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِکَاف (**ترجمه:** ما د سُنَّتِ اعتکاف نِيَّت اوکړو)

**مُحترمو اسلامي ورونړو!** چې کله جُمات ته داخل شئ، نو ياد ساتئ او د اِعتِکاف نِيَّت کوئ، تر څو چې جُمات کښې ئې نو د اِعتِکاف ثواب به مو کيږي.

ياد ساتئ! جُمات کښې د خوراك څښاك، اُوده کيدو يا پيشمني او روژه ماتي کولو، تر دې چې د آبِ زَم زَم يا دَم کړو اوبو څښلو هُم شرعاً اجازت نشته، البته که د اعتکاف نِيَّت مو کړے وي نو دا ټول کارونه به ضِمناً جائز شي.

## د دُرُود شريف فضيلت

**فرمانِ آخری نبی، رسولِ هاشمی** صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا ته چې څه اهم حاجت پيښ وي، هغه دِ په ما باندې کثرت سره درود شريف لوَلي ځکه چې دُرُود شريف غم، درد او

مصيبتونه لرې کوي او په رِزق کښې اضافه کوي . (1)

دُور ہو جائیں دُنیا کے رنج واَلَم | ہو عطا اپنا غم دیجئے چشمِ نم
مال ودولت کی کثرت کا طالب نہیں | تم پہ ہر دم کروڑوں دُرُود وسلام (2)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

مُحترمو اسلامي ورونړو! ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: " اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ" رښتينے نيت بهترين عبادت دے. (3)

اے عاشقانِ رسول! نيك او جائز کار کښې چې څومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي.

❁ د عِلمِ دِين حاصلولو نِيَّت اوکړئ او نور دا نيتونه اوکړئ چې ❁ نظر به ښکته ساتم او ښه په غورسره به بيان اورم. ❁ چې څومره کيدے شي د ډډه وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې کښينم ❁ د علم زده کولو د پاره به پوره بيان اورم ❁ د بيان په دوران کښې به د سُستئ نه ځان بچ ساتم ❁ د خپلې اصلاح د پاره به بيان اورم ❁ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1...بُستانُ الواعظین، صفحہ:241۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:604۔
3...جامع صغیر، صفحه:81، حديث:1284۔

# احساسِ کمتري څه ته وائي؟

احساسِ کمتري يو نفساتي مرض (يعني دِماغي بيماري) ده، په انګريزئ کښې دې ته ***Infiriority Complex*** [اِنفيرائيوريټي کمپليکس] وائي د ***Complex*** [کمپليکس] معنٰى ده: پټ پراته خيالات او د ***Infiriority*** [اِنفيرائيوريټي] معنٰى ده: کم تر، بيکاره. لِـهٰذا د ***Infiriority Complex*** [اِنفيرائيوريټي کمپليکس] معنٰى به جوړيږي: خپل ځان د بيکاره او کمتر ګنړلو والا پټ پراته خيالات.

احساسِ کمتري په حقيقت کښې يوه موازنه ده. چې کله يو بنده د نورو سره خپل تَقابُل کوي نو د دې دوه صورتونه جوړيږي: **(1)** يو دا چې بنده خپل صِفَت [ښه والي] ته اوګوري او بل سره خپله مُوازَنه اوکړي چې مثلاً زما سره مال دے، دا بل کس غريب دے، زما سره ګاډے دے، ده سره ګاډے نشته، زما جامې ښې دي د ده جامې ښې نه دي وغيره. د موازنے دا صورت د احساسِ برترئ سبب جوړيږي. **(2)** دويم صورت دا دے چې بنده خپل کوم کمي، خپلې څه محرومئ ته اوګوري او بل سره خپله مُوازَنَه اوکړي چې مثلاً فلانے مالدار دے زه غريب يم، فلانے زما نه زيات ښکلے دے. د موازنے دا صورت د احساسِ کمترئ سبب جوړيږي.

که احساسِ برتري وي او که احساسِ کمتري، دا دواړه نقصاني دي، ځکه چې احساسِ برتري انسان په تَـكَـبُّر کښې اخته کوي او احساسِ کمتري انسان د مايوسئ او حَسَد طرف ته بوځي.

# د احساسِ کمترئ یوه بنیادي وجه

احساسِ کمتري ولے کیږي؟ د دې یوه غټه بنیادي وجه زمونږه مُعاشره ده، زمونږه عادتونه او طور طریقے دي: ❁ زمونږه معاشره کښې خلق په یو بل پورې خاندې ❁ په یو بل بےځایه تنقید کوي ❁ د کوم عاجزه چې سترګې نه وي هغه ته ړُوند وائي او ورپورې خاندې ❁ د چا چې ښپے سلامتې نه وي، هغه ته ګوَډ وائي ❁ اوچت قد والا ته ډانګے وائي ❁ د چا چې رنګ تور وائي هغه د تهوقې په طور تور، تور وائي، په دې وجه هغه بیا په احساسِ کمترئ کښې اخته شي [چې زه ولے داسې یم] ❁ مور و پلار خپلو ماشومانو ته بےځایه غُصَّه کوي، هر وخت ئې رټي، د هغوئي غلطئ بیانوي، په دې وجه په ماشومانو کښې خود اعتمادي کمه شي او په احساسِ کمترئ کښې اخته شي ❁ ملګري دوستان چې یو ځائے کښیني نو په یو بل پورې خبرې کول شروع کړي، په یو بل پورې خاندې او تهوقې کوي او د دې نه خوند اخلي، هغوئي ته د دې احساس نه وي چې زمونږ دا دوست [په چا پورې چې مونږ تهوقې کوو دا] په ظاهره خو مُسکے مُسکے کیږي خو په زړه ئې څه تیریږي، دغسې د چا چې بےعِزَّتي کیږي کله کله هغه په احساسِ کمترئ کښې هُم اخته شي ❁ کوَنډې زنانه ته چې کله پیغورونه ورکولے کیږي ❁ د کومې زنانه چې اولاد نه وي، هغې ته چې سپورې ستغې خبرې اوروَلے کیږي [نو هغه هُم په احساسِ کمترئ کښې اخته شي] ❁ کوم خلق چې خپلو بچو له ښه ښه خیزونه راوړي او د یتیم په سر لاس نه راښکاږي او ❁ یتیمان په

مُعاشره کښې بے وسه پرېښودے شي نو د خلقو دا سلوک د هغوئي په احساسِ کمترئ کښې د اخته کېدو سبب جوړېږي.

## د 15 کالو په عمر کښې مې وېښته سپين شوي دي.

☸ 8 رَمَضانُ المُبَارك **1440**هجري، په عالَمي مدَني مرکز فيضانِ مدينه کراچئ کښې د مازديګر د لمَانځه نه پس د مَدَني مُذَاکرے سلسله جاري وه، يو اسلامي ورور فون اوکړو او د شيخِ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ نه ئې سُوال اوکړو چې: زما عمر 15 کاله دے او زما د سر وېښته سپين شوي دي، چرته چې لاړ شم نو خلق را پورې ټوقې کوي.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! اوګورئ! خلق په نورو پورې ښکه ښکه ټوقې کوي، کېدے شي چې هغه اسلامي ورور هُم د خلقو د ټوقو او مسخرو په وجه په احساسِ کمترئ کښې مُبتلا شوے وو، شيخِ طريقت، اَمِيرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ هغه ته داسې نصيحت اوکړو چې: د **اللّٰه** پاك رضا ده، د **اللّٰه** پاك په رضا راضي اوسه، دا خبره زړه ته مه نِيسه ګني په احساسِ محرومئ کښې به اخته شې او ستا مخکښې ترقي کول به مشکل شي.

## چا پورې ټوقې مه کوئ....!

قربان شم! د اسلام د روښانه تعليماتو نه، چې اسلام د احساسِ کمترئ پيدا کولو والا دې څيزونو نه د مخکښې نه منع فرمائيلي ده، **اللّٰه** پاك په قرآنِ کريم کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّنْ قَوْمٍ عَسٰۤى اَنْ يَّكُوْنُوْا خَيْرًا مِّنْهُمْ (پاره:26،سورةالحجرات:11) | مفهوم ترجمهٔ کَنْزُالعِرْفان: اے ايمان والؤ! سړي دِ په نورو سړو پورې نه خاندي، کيدے شي چې هغوئي د دې خندا کوونکو نه بهتر وي. |

زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ وَلَا اللَّعَّانِ وَ لَا الْفَاحِشِ وَلَا الْبَذِيِّ مُومِن پيغور ورکوونکے نه وي، نه لعنت کوونکے وي، نه د بےحيائي خبرې کوونکے وي، نه [په چا پورې] توقې کوونکے وي.[1]

اے عاشِقانِ رسول! دا هم ياد لرئ چې انسان بل انسان جوړ کړے نه دے، بلکه انسان خو الله پاك پيدا کړے دے کوم چې د ټولو جهانونو مالك دے، انسان څنګه پيدا شوے دے؟ راځئ چې د دې په باره کښې آيت مبارَکه واورو،

په ديرشمه سيپاره سُوْرَةُالتِّيْن، آيت: 4 کښې ارشاد شوے دے:

| | |
|---|---|
| لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْۤ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ۟ (پاره30،سورةالتين:4) | مفهوم ترجمهٔ کَنْزُالايمان: بيشکه مونږه انسان په ښه صورت کښې پيدا کړے دے. |

په تفسير صِراطُ الجنان کښې د دې آيت لاندې ليك دي چې: الله پاک د اِينځر، زيتون[يعني ښونه]، طُورِ سينا او د مَکّے د ښار قَسَم ذِکر کولو نه پس فرمائي: بيشکه مونږه انسان په ښه شکل و صورت کښې پيدا کړے دے، د ده په اندامونو کښې مو مناسبت کېښودے دے، دا مو د څناورو په شان ټيټ نه بلکه نيغ اودريدو والا جوړ

[1] ...ترمذی، کتاب:البر والصلة، باب:ماجاء فی اللَعْنَة، صفحه:481، حديث:1977۔

کړے دے، دا مو د ځناورو په شان خوراک په خُله باندې راخستلو والا نه، بلکه په لاسونو راخستلو والا جوړ کړے دے او دا مو د عِلم، فَهم [یعنې پوهې]، عقل، تمیز [یعنې د ښه او بد په مینځ کښې فرق کولو والا] او د خبرو کولو په صلاحیَّت باندې ښائسته کړے دے.[1]

## د اللہ پاك د معرفت حاصلولو ذریعه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! که انسان د **اللہ** پاك په نورو مخلوقاتو غور اوکړي نو په هغه باندې به د رنړا ورځې په شان واضحه شي چې **اللہ** پاك انسان ته د ظاهري شکل وصورت حُسن او د باطني حُسن څومره نعمتونه عطا کړي دي، او په دې څيز کښې چې څومره زیات غور کوي هغه همره زیات به ورته د **اللہ** پاك د عظمت او قدرت معرفت حاصلیږي، او په دې عظیم نِعمَت به ډیر ښه پوهه شي.[2]

## د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مُبارَك انداز

حضرت عبدُ اللّٰه بِن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د ډیرې اوچتې مرتبے والا صحابي دے، د هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پنډۍ نرۍ نرۍ وې، یو ځل هغوئي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د مِسواك ماتولو د پاره ونې ته اوختولو ناڅاپه هوا راغله، کپړه ئې اوچته شوه او پنډۍ ئې ښکاره شوے، هلته موجودو خلقو چې د هغوئي پنډۍ اولیدلې نو اوئې خندل، په دې باندې غمخوار آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: په هغه ذات مې دِ قَسَم وي د چا په قبضه کښې چې زما

---

[1]...تفسیر صراط الجنان، پارہ:30، سورۃالتین، زیرآیت:4، جلد:10، صفحه:755۔

[2]...تفسیر صراط الجنان، پارہ:30، سورۃالتین، زیرآیت:4، جلد:10، صفحه:755۔

ساه ده، د حضرت عبدُ الله بِن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنْہُ پنډئ په ميزانِ عمل باندې د اُحُد د غر نه زياتې وزندارې دي.[1]

## د الله بندګانو ورونړه ورونړه جوړ شئ....!

يو ځل يو كس د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په بارګاه كښې حاضر شو، هغه څه حاجت لرلو او [د هغې په باره كښې ئې] د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت كښې عرض كول غوښتل خو چې كله د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وړاندې حاضر شو نو په هغه باندې د نَبُوَّت د جلال رُعب پريوتو او [بدن ئې په] رپيدو شو، د هغه دا حالت ئې چې اوليدلو نو غمخوار آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: په سكون شه.... زه (د دُنياوي بادشاهانو په شان) ظالِم بادشاه نه يم، زه د قريشو د هغې زنانه ځوئ يم كومه به چې په مكه مكرمه كښې اوسيدله او اوچه غوښه به ئې خوړله.[2]

اَللّٰهُ اَكْبَر! اے عاشِقانِ رسول! اندازه اوكړئ! د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ژبې مُبارَكې نه ئې چې دا خوږې او ښائسته خبرې اوريدلې وې نو د هغه كس زړه به څومره مطمئِن شوے وي او د هغه په زړه كښې به څومره ډير عشقِ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پيدا شوے وي. سُبْحٰنَ الله! د اعلٰى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مشر ورور مولانا حَسَن رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه څه ښكلې ليكلي دي:

---

[1]...مسند امام احمد، جلد:2، صفحه:591، حديث:4072۔

[2]...المواهب اللدنيه، جلد:2، صفحه:101۔

اُن کے جلووں میں ہیں یہ دلچسپیاں | جو وہاں پہنچا وہیں کا ہو گیا (1)

**وضاحت:** د حُضُورِ اکرَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دِيدارِ كښې، په مبارك انداز كښې، په خوږو خوږو خبرو كښې داسې خوند دے چې څوك يو ځل ورحاضر شي نو بس د هغوئي شي [يعنې بيا د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د در نه جُدا كيدل نه خوښوي].

دل میں گھر کرتا ہے اعدا کے ترا شیریں سُخَن | ہے میرے شیریں سخن شُہرہ تری گفتار کا (2)

[**وضاحت:** يعنې يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو خوږې خبرې د دُښمنانو په زړونو هم اثر كوي. اے زما د خوږو خبرو والا آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو د خوږو خبرو شُهرت خو په هر ځائے خور دے.]

**د حديثِ پاك باقي حِصَّه:** اے عاشِقانِ رسول! په كوم كس چې د خوږ آقا ﷺ د نَبُوَّت د جلال رُعب خور وو، چې كله ئې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوږې خبرې واوريدلې نو د هغه د بدن رپيدل ختم شو، بيا هغه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت كښې خپل حاجت پيش كړو، د هغې نه پس خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوديدلو او اوئې فرمائيل: اے خلقو! بيشكه ما ته وحي شوې ده چې تاسو ته د عاجزئ اختيارولو حكم اوكړم. پس عاجزي اختيار كړئ! په تاسو كښې دِ يو هُم د بل

---

[1]…ذوقِ نعت، صفحه:35۔

[2]…سامانِ بخشش، صفحه:56۔

سره زياتے نه کوي، هيڅ څوك دِ هُم په بل [يعنې د بل په مقابله کښې] فخر نه کوي. اے د الله بندګانو! ورونړه ورونړه شئ.[1]

اے عاشِقانِ رسول! په مونږه لازم دي چې مونږه د اسلام په روښانه تعليماتو باندې عمل اوکړو، د **الله** پاك او د خوږ رسول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانبرداره بندګان جوړ شو او چې څومره کيدے شي نور خلق د احساسِ کمترئ نه د بچ کولو کوشش اوکړو. **الله** پاك دِ د عمل کولو توفيق را عطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د احساسِ کمترئ دوه قِسمونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږ ټيچله خو به نور خلق د احساسِ کمترئ نه د بچ کولو کوشش کوو خو د دې سره سره څوک چې په احساسِ کمترئ کښې اخته شوي دي هغوئي له هم پکار دي چې د **الله** پاك په رِضا باندې راضي اوسي او په احساسِ کمترئ کښې نه اخته کيږي. يو ځل شيخِ طريقَت،اَمِيرِ اهلسنّت، بانئ دعوتِ اسلامي، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِری رَضَوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَهْ په مَدَني مُذاکره کښې د احساسِ کمترئ په باره کښې مدني ګلونه پيش کول، اوئې فرمائيل چې **احساسِ کمتري شرعي اِصطِلاح نه ده**، په بعضو صورتونو کښې احساسِ کمتري انسان د هر څه نه محرومه کړي، او په بعضو صورتونو کښې احساسِ کمتري ډيره ضروري وي، مثلاً د عمل په اعتبار سره احساسِ کمتري ضروري ده، (يعنې انسان دِ دا ګڼړي چې) زما سره هيڅ نيکئ نشته، بنده دِ مسلسل د نيکو حِرص زياتوي، د

---

[1]...المواهب اللدنيه، جلد:2، صفحه:101۔

نیکو په مُعامَله کښې داسې یو منزل نشته چې بنده مطمئن شي چې بس ما ډېرې نیکۍ اوکړې بس نور ما ته د نیکو کولو ضرورت نشته، لِهٰذا د اعمالو په اعتبار سره ضروري ده چې بنده خپل ځان کم ګڼړي او کله دِ هم ځان نیك نه ګڼړي، د یو ساعت کروړمه حِصّه دِ هم دا په ذِهن کښې نه راولي چې زه ډېر نیك یم او **اللّٰه** پاك قبول کړے یم ځکه چې معلومه نه ده چې د **اللّٰه** پاك پټ تدبیر د ده په باره کښې څه دے؟ بنده دِ همیشه د **اللّٰه** پاك نه ویرېږي او خپل ځان دِ ګنهګار ګڼړي.

**پاتې شوه په دُنیاوي معامَلو کښې احساسِ کمتري:** لکه څنګه چې څوك یو مالدار کس اووینې او بیا خپلې غریبۍ ته اوګوري نو په احساسِ کمترئ کښې اخته شي چې ❁ دا د بنګلے مالك دے او زه په یو وړوکي کور کښې اوسیږم ❁ دا د خپل کور مالك دے او زه د کرایه په کور کښې اوسیږم ❁ ده سره موټر کار دے او زما سره موټر سائیکل دے ❁ د ده سره موټر سائیکل دے او زما سره سائیکل دے ❁ ده سره سائیکل دے او زه پیاده سفر کووم ❁ دا صحت مند دے او زه کمزورے یم ❁ دا تندُرُسته دے او زه بیمار یم، دغه شان د ځان نه اوچتو خلقو ته کتلو سره انسان په احساسِ کمترئ کښې مبتلا کیږی، نو په دې کښې هیڅ فائده نشته، سراسر نُقصان دے بلکه د دې په وجه دغسې زړه خفه کولو سره انسان په حَسَد کښې هُم اخته کیدے شي.

دغسې به د احساسِ کمترئ [دوه] قِسمونه جوړ شي: **(1)** په دیني مُعاملاتو کښې د عمل (یعني د نیکو) په اعتبار سره احساسِ کمتري: دا لازمه ده، دا کیدل پکار ده او **(2)** دُنیاوي اعتبار سره احساسِ کمتري: دا هیڅ ښه څیز نه دے.

# د حضرت عیسٰی عَلَیْہِ السَّلَام د دُنیا نه بےرغبتي

شیخِ طریقت، اَمیرِ اهلسنّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ نور فرمائي: حضرت عیسٰی عَلَیْہِ السَّلَام سره یوه پیالیٔ وه، هغوئي هغه پیالیٔ هم لرې کړه چې دا هم د دُنیا مال دے، دا مې نه ده پکار، زه به په لاسو اوبه څښم.[1]

یعني حضرت عیسٰی عَلَیْہِ السَّلَام د نورو خلقو د مال طرف ته هډو کتل نه، او نه ئې پخپله د ځان مالداره جوړیدلو خواهش لرلو، کوم لږ مال (یعني یوه پیاله) چې ورسره وه، هغه ئې هم ځان سره اونه ساتله. دغه شان د نورو ډیرو بُزُرګانِ دینو واقعات دي چې هغوئي به ځان سره څه [مال] نه ساتلو. که څه [مال] به ورله راغلو هغه به ئې تقسیمولو. پخپله زمونږ خوږ آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د خپل ځان د پاره د بل وخت د پاره څه [طعام وغیره] نه ساتلو. دغه شان د ډیرو اولیائے کرامو واقعات دي چې یو وخت به ئې اوخوړله او څه خوراك به پاتې شو نو هغه به ئې صدقه کړو، بل وخت د پاره به ئې نه ساتلو اګرچې د بل وخت خوراك میلاویدلو به څه ظاهري سبب نه وو، د اللہ دغه نیکو بندګانو به تَوَکُّل کولو، په **اللہ** پاك به ئې یقین ساتلو، معلومه شوه چې که انسان پیروي کوي نو د داسې خلقو دِ اوکړي. کاش چې مونږه هم د هغه نیکو بندګانو د برکتونو نه مالامال شو او مونږ ته هم د **اللہ** پاك په بارګاه کښې څه مقام نصیب شي.

---

[1] ...قُوت القلوب مترجم، جلد:1، صفحه:22۔

# د احساسِ کمترئ نه د بچ کيدلو درې طريقے

اے عاشِقانِ رسول! د عِلمِ نفسيات د ماهرينو مطابق احساسِ کمترې پخپله هيڅ خيز نه دے، دا صرف يو احساس دے. څوک چې په احساسِ کمترئ کښې اخته شي، هغه په اصل کښې په دريو يا د دريو نه په يو نفسياتي مرض کښې اخته شي نو بيا په احساسِ کمترئ کښې هُم مبتلا شي. هغه درې نفسياتي مرضونه دا دي: **(1)** ناشُکري **(2)** د ژوند واضحه څه مقصد نه کيدل **(3)** خوش فَهمي.

## 1. شُکرګزار جوړ شئ...!

کوم خلق چې په احساسِ محرومئ کښې اخته دي، هغوئ د يو حده پورې د خپل ځان نه بدګمانه شوي وي، هغوئ دا محسوسوي چې ما ته هډو څه ميلاؤ شوي نه دي، زما په قِسمَت کښې خو بس صرف محرومي ده، حالانکه داسې نه وي، **الله** پاك هر يو ته ډير نعموته ورکړي دي، په دُنيا کښې هر يو انسان ته بيشميره نِعمتونه ورکړے شوي دي، فرض کړئ که څوك ړُوند دے، ګوَډ دے، غريب دے، فقير دے، د دې [نعمتونو] نه د محرومه کيدو باوُجود هُم هغه سره د کروړاؤ روپو نعمتونه هر وقت موجود وي، **الله** پاك په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَاِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ لَا تُحْصُوْهَا ؕ (پاره:14،سورةالنحل:18) | مفهوم ترجمۀ کَنزُ العِرفان: او که تاسو د الله نِعمتونه اوشميرئ نو شمير به نه کړے شئ. |

په دې آيتِ کريمه باندې ډير غور و فِکر اوکړئ! واقعي دا حقيقت دے چې **الله** پاك مونږ ټولو ته دومره نِعمتونه راکړي دي چې که مونږه اوغواړو نو هم د هغې شمير نه شو

کولے، لاسونه، غوږونه، ښپے، سر، دِماغ دا ټول د **اللّٰه** پاك نِعمَتونه دي، په بدن کښې دننه نِظام زړه، اِينه، پړپوس، معده، کُولـمې، دا ټول د **اللّٰه** پاك نِعمتونه دي، د دې ټولو نِعمتونو شمير کول ډير مشکل کار دے، مونږ ته بعضې وخت د دې نعمتونو نومونه هم نه وي معلوم، زمونږ د بدن په دننه حصَّه کښې څومره اندامونه داسې دي چې مونږه ئې استعمالوو خو مونږ ته د هغې نومونه هُم معلوم نه دي، دا ټول د **اللّٰه** پاك نعمتونه دي.

## د يو مالدار کس د ټولو نه غټ خواهش

يو ډير مالدار سړے وو، د هغه د سترګو څرمن (کومه چې د سترګو په کاټو د پاسه راخوره وي، چې سترګه محفوظه ساتي هغې) کار پريښودے وو، دا آټوميټک نِظام کوم چې **اللّٰه** پاك مونږ ته عطا کړے دے، که يو خځنړے سترګې طرف ته راځي نو هُم سترګه پخپله پټه شي.

هغه مالدار سړي ته دا مسئله جوړه شوه چې د سترګو د څرمنې پټـو ئې کار پريښودے وو د هغه د څرمنې خود کار نِظام خراب شوے وو يعنې هغه به په خپله خوښه نه شوې بنديدلے، د دُنيا مالداره سړے وو، په لکونو کروړونو روپۍ ئې په علاج خرچ کړې خو شِفا ئې نصيب نه شوه. يو ځل چا د هغه مالداره سړي نه تپوس اوکړو: جناب! ستا د ژوند د ټولو نه غټ خواهش څه دے؟ هغه يو سوړ اسويلے اوکړو او اوئې وئيل: **کاش چې ما خپلې سترګې په خپله خوښه بيرته کولے شوې.**

غور اوکړئ! دا د **الله** پاك ځومره لوئ نِعمَت دے کوم چې مونږ ته بے پیسو میلاؤ شوے دے، په مونږ کښې دا ډیر غټ عیب دے چې مونږه **ناپوهه خلق خپلو محرومو ته ګورو خو د الله پاك راکړو شوو نِعمتونو ته نه ګورو.**

## د حضرت رابِعَه بصریه رَحْمَةُاللهِ عَلَیْهَا د حکمت نه ډك کلام

حضرت رابِعَه بَصرِیه رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْهَا مشهوره وَلِیَّه وه، ډیره نیکه او عبادت ګُزاره وه، حضرت مُحَمَّد بِن عَمرو رَحْمَةُاللهِ عَلَیْه فرمائي چې د حضرت رابِعَه بصرِیه رَحْمَةُاللهِ عَلَیْهَا د کور ټول ساز و سامان شپږ څیزونه وو: **(1)** یوه پزَکے **(2)** یو منګے **(3)** یوه پیالئ او **(4)** یو د وړئ پیره کیږه وه چې په هغې به ئې لمُونځ ادا کولو او هم په هغې به ئې آرام کولو، **(5- 6)** تقریباً د دوه ګزه اوګږد بانس یو موګے وو او په هغې به کفن زوَړند پروت وو.

یو ځل حضرت سُفیان ثَوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د حضرت رابِعَه بصرِیه رَحْمَةُاللهِ عَلَیْهَا غریبي او تنګ دستي اولیدله نو عرض ئې اوکړو: اے اُمِّ عَمرو! زه دا وینم چې ته د دې خبرې قابله ئې چې په تا رحم اوکړے شي، که ته خپل فلاني ګاونډي له لاړه شئ نو هغه به تا په دې حال باندې نه پریږدي (یعني هغه به ستا مالي خدمت کول د خپل ځان د پاره سعادت اوګنړي)، په دې باندې حضرت رابِعَه بصرِیه رَحْمَةُاللهِ عَلَیْهَا اوفرمائیل: سُفیان! تاسو زما په حال کښې څه کمے اولیدو؟ آیا زه مسلمانه نه یم....؟ اسلام هغه عِزَّت دے چې د دې سره ذِلَّت نشته، اسلام هغه مالداري ده چې **محتاجي** ورسره نشته، اسلام هغه مَحَبَّت دے چې د دې سره ویره نشته. په **الله** پاك مې دِ قَسَم وي! زه د دُنیا حقیقي مالِك (یعني **الله** پاك) نه هم دُنیا غوښتلو کښې حیا کووم نو څوک چې د دُنیا مالِك نه دے

(مثلاً مالدار خلق) د هغوئي نه دُنيا څنګه اوغوارم؟ دا د حکمت نه ډك کلام ئې چې واوريدلونو حضرت سُفيان ثَوري رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه بيرته لاړلو او د هغوئي په ژبه دا الفاظ وو: ما داسې کلام کله هم نه وو اوريدلے.[1]

اے عاشِقانِ رسول! د حضرت رابِعَه بصريه رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهَا دې ښکلي انداز باندې غور اوکړئ! يو خو دا چې هغوئي قناعت اختيار کړے وو، د خلقو نه سُوال کول ئې نه خوښول، دويم دا چې کله د هغې د غريبئ ذِکر اوکړے شو نو څنګه د عِلم و حِکمت او شکر ګُزارئ او صبر نه ډک جواب ئې ورکړو چې: اے سُفيان! تاسو زما په حال کښې څه کمے ليدلے دے؟ آيا زه مسلمانه نه يم...؟ اسلام هغه عِزَّت دے چې ذِلَّت ورسره نشته، **اسلام هغه مالداري ده چې محتاجي ورسره نشته.**

**الله** پاك دِ مونږ ته هُم د حضرت رابِعَه بصريه رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡهَا په برکت هر وخت د شُکر ادا کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## نِعمَتونه په توَجُّه کښې ساتئ

نن صبا په دُنيا کښې غريب ډير زيات دي، بے وسه او ناداره ډير دي خو داسې غريب به په ډيره مشکله اوموندلے شي چې هغه دا وائي چې **زما سره د اِيمان دولت دے [که دُنياوي مال راسره نه وي نو بيا هُم] زه ډير غټ مالداره يم.** حالانکه اِيمان د ټولو نه غټ دولت دے، که د مال و دولت اَهَمِّيَّت د اِيمان نه زيات وے نو قارون به نه بربادېدو، که د طاقت، قُوَّت او بادشاهت اَهَمِّيَّت د اِيمان نه زيات وے نو فرعون به نه

---

[1] ...وفيات الاعيان، جلد:1، صفحه:328۔

غرق کيدو، اِيمان د ټولو نه لوئ دولت دے، دا نايابه [يعني ډير قيمتي] دولت انسان ته نصيب وي خو د دې باوُجود خلق خپلې ظاهري غريبئ ته ګوري او په دې وجه په احساسِ کمترئ کښې اخته شي.

**کاش** چې مونږه هم د **الله** پاك مونږ ته عطا کړي نِعمتونه ياد ساتونکي جوړ شو. يقين اوکړئ! څومره چې مونږه د خپلې محرومئ په باره کښې سوچ کوو که هُم دومره سوچ د **الله** پاك په راعطا کړو نِعمتونو باندې اوکړو نو د محرومئ احساس به مو بچپله ختم شي. که تاسو د اطمينان، سُکون او خوشحالئ نه ډك ژوند تيرول غواړئ نو د **الله** پاك عطا کړي نِعمتونه په تَوَجُّه کښې د ساتلو عادت جوړ کړئ. دا سوچ مه کوئ چې **ما ته څه نه دي راکړے شوي بلکه** د دې په ځائے دا سوچ کوئ **چې ما ته څه څه راکړے شوي دي**، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! غمونه به مو ختم شي.

## د شُکر کولو فائده

په سيپاره **13** سورۂ اِبراهيم آيت نمبر **7** کښې ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَ اِذْ تَاَذَّنَ رَبُّكُمْ لَىٕنْ شَكَرْتُمْ لَاَزِيْدَنَّكُمْ وَ لَىٕنْ كَفَرْتُمْ اِنَّ عَذَابِیْ لَشَدِيْدٌ ﴿۷﴾ (پاره13،سورۃابراهيم:7) | مفهوم ترجمۂ کنزالايمان: او ياد کړئ چې کله ستاسو ربّ واورول چې که احسان اومنئ نو زه به تاسو ته نور [نعمتونه] درکړم او که ناشکري اوکړئ نو زما عذاب سخت دے. |

په تفسير صِراطُ الجنان کښې د دې آيت لاندې ليك دي: معلومه شوه چې د شُکر سره نِعمَت زياتيږي، د شُکر حقيقت دا دے چې بنده د نِعمَت ورکوونکي د نِعمَت د

هغه د تعظيم سره اعتراف اوکړي، او خپل نفس له د دې عادت ورکړي. دلته يوه ډيره باريکه نُکته دا ده چې بنده کله د **اللّٰه** پاك د نِعمتونو او د هغه د هر قِسمه فضل و کرم او احسان مطالعَه اوکړي نو د هغه په شُکر کښې مشغول شي، دې سره نِعمتونه زياتيږي او د بنده په زړه کښې د **اللّٰه** پاك **محبَّت** مسلسل زياتيږي، دا مقام ډير اوچت دے او د دې نه اعلیٰ مقام دا دے چې د نِعمَت ورکوونکي [يعنې د **اللّٰه**] **محبت** دومره غالِب شي چې په زړه کښې د نِعمَتونو طرف ته تَوجُّه پاتې نه شي، دا مقام د صِدِّيقينو دے.[1]

## د شُکر فضيلت او د ناشُکرئ غندنه

د آيت په مُنَاسَبَت د شُکر او ناشُکرئ مُتَعَلِّق حديثِ پاك واورئ: د حضرت عبدُ اللّٰه بِن مسعود رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: چا ته چې د شُکر کولو توفيق نصيب شي هغه به د نِعمَت د زيات والي نه نه **محرومه** کيږي، ځکه چې **اللّٰه** پاك ارشاد فرمائي: لَئِنۡ شَكَرۡتُمۡ لَاَزِيۡدَنَّكُمۡ يعنې که تاسو زما شُکر ادا کړئ نو زه به تاسو ته نور زيات عطا کړم. چا ته چې د توبه کولو توفيق نصيب شي هغه به د توبې د قبوليت نه نه **محرومه** کيږي ځکه چې د **اللّٰه** پاك ارشاد دے: وَهُوَ الَّذِيۡ يَقۡبَلُ التَّوۡبَةَ عَنۡ عِبَادِهٖ او هم هغه دے چې د خپلو بندګانو توبه قبلوي.[2]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1 …تفسير صراط الجنان، پاره:13، سورة ابراهيم، زير آيت:7، جلد:5، صفحه:153۔

2 …درمنثور، پاره:13، سورة ابراهيم، زير آيت:7، جلد:5، صفحه:9۔

# د ”اَلْحَمْدُ لِلّٰه“ وئيلو عادت جوړ کړئ...!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د احساسِ کمترئ نه د بچ کيدو ډير آسان حل دے چې مونږه د اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئيلو عادت جوړ کړو. اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئيل د الله پاك شُکر دے او دا د ټولو نه افضل شُکر قرار کړے شوے دے. که مونږ ته د هر قِسمه خير راورسي، د هغې دُعا ده: اَلْحَمْدُ لِلّٰه. که مونږه د سحر نه تر ماښامه پورې صرف دا غور اوکړو چې زما په ژوند کښې د اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئيلو څومره موقعے دي نو کيدے شي مونږه ئې شمار نه کړے شو ❁ که سحر مو سترګې اوغړيږي، دا هم نِعمَت دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰه اووائې ❁ د بسترے نه د پاڅيدو لائق شوئ، اَلْحَمْدُ لِلّٰه اووائې ❁ ښپے مو سلامته دي، د څپلو پښپو کولو قابلې دي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه اووائې ❁ د اودريدلو قابِل ئې، اَلْحَمْدُ لِلّٰه اووائې ❁ زنګونان مو حرکت کوي يعنې د ګرځيدلو قابل ئې، اَلْحَمْدُ لِلّٰه اووائې ❁ که الله پاك د خه کار کولو توفيق درکړے وي نو اَلْحَمْدُ لِلّٰه اووائې ❁ ماښام چې کور ته اورسيږئ، اَلْحَمْدُ لِلّٰه اووائې ❁ خپل بچي مو که اوليدل، اَلْحَمْدُ لِلّٰه اووائې ❁ که اوبه مو اوڅښلې نو اَلْحَمْدُ لِلّٰه اووائې ❁ که طعام مو اوخوړلو نو اَلْحَمْدُ لِلّٰه اووائې ❁ که چائے مو اوڅښلو نو اَلْحَمْدُ لِلّٰه اووائې.

داسې د اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئيلو عادت جوړ کړئ. که مونږه صرف د اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئيلو په موقعو باندې سوچ کوو او په هغه موقعو باندې د اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئيلو عادت جوړ کړو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيْم! د خپلې محرومئ طرف ته د سوچ کولو موقع به هُم راته نه ملاويږي.

## د "اَلْحَمْدُ لِلّٰه" وئیلو زبردسته فائده

د **الله** پاك په مهربانئ سره اَلْحَمْدُ لِلّٰه هغه ښکلي جمله ده، چې په ژبه وروسته راځي او شوندې ترینه مخکښې مُسکئ کیږي، آؤ جي! د اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئیلو تقاضه هُم دا ده چې بنده ئې په مُسکا مُسکا اووائي. شاید چې تاسو به څوك هُم داسې نه وي لیدلے چې په ژړا کښې ئې اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئیلي وي، شاید چرته به داسې نه وي شوي چې بنده پریشانه وي او هغه اَلْحَمْدُ لِلّٰه اُووائي. عام طور چې خلق کله هم اَلْحَمْدُ لِلّٰه وائي نو په مُسکا مُسکا ئې وائي، که مونږه د اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئیلو عادت جوړ کړو! نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! نیکئ به هم حاصلې کړو او خوشحاله به هم اوسیږو او که **الله** پاك اوغواړي نو د احساسِ کمترئ نه به را ته خلاصے هم نصیب شي.

## د "اَلْحَمْدُ لِلّٰه" وئیلو فضائل

❁ یو ځل د **الله** پاك آخري نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان ته اوفرمائیل: ډالونه (یعنې د دُښمن د وار نه د بچ کیدو د پاره استعمالیدونکے سامان) را واخلئ! صحابۀ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوان عرض اوکړو: **یارَسُولَ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! آیا دُښمن حمله کړي ده؟ اوئې فرمائیل: نه (دُښمن حمله نه ده کړي) بلکه د دوزخ په مُقابَله کښې خپل ډالونه را واخلئ او سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَاللّٰهُ اَکْبَرُ لولئ ځکه چې په ورځ د قیامت به مخکښې او وروستونو نه دا کلمات ستاسو حفاظت کوي[1] ❁ زمونږ خوږ

---

[1] ...مستدرک علی الصحیحین، کتاب:الدعاوالتکبیر، جلد:2، صفحه:235، حدیث:2029۔

نبــي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صحابهٔ کرامو عَلَیْهِمُ الرِّضْوان ته اوفرمائيل: آيا په تاسو کښې څوك هره ورځ د اُحد د غر همره عمل کولو طاقت لري؟ صحابه عَلَیْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوکړو: يا رَسُولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! هره ورځ د اُحد د غر همره عمل کولو طاقت څوك لرلے شي؟ اوئې فرمائيل: تاسو ټول طاقت لرئ. عرض اوکړے شو: څنګه؟ اوئې فرمائيل: اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئيل د اُحد د غر نه زيات عظمَت والا دي.[1] ❁ د حضرت ابُو مالِک اشعري رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے چې زمونږ خوږ نبــي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائي: اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئيل ميزان ډکوي.[2] يعنې د اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئيلو دومره ثواب دے چې په ورځ د قيامت چې کله دا ثواب په ميزان کښې کيښودے شي نو ميزان به ترينه ډك شي.[3]

الله پاك دِ مونږ ته په کثرت سره د شُکر ادا کولو او د اَلْحَمْدُ لِلّٰه وئيلو په ذريعه خپله ژبه د مشغوله ساتلو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## 2. خپل صلاحيتونه اوپيژنئ...!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په احساسِ کمترئ کښې د مبتلا کيدلو يوه غټه او اهمه وجه خپل ځان نه پيژندل هم دي. عام طور په احساسِ کمترئ کښې هغه خلق مبتلا کيږي څوک چې خپل صلاحيتونه نه پيژني، د هغوئي د ژوند څه واضحه مقصد

---

1 ...معجم كبير، جلد:7، صفحه:280279، حديث:14812۔
2 ...مسلم، كتاب:الطهارة، باب، فضل الوضو، صفحه:106، حديث:223ملتقطاً۔
3 ...فيض القدير، جلد:4، صفحه:384۔

نه وي. د دې ښکاره حل دا دے چې بنده خپل صلاحيتونه اوپيژني او د ژوند يو واضحه مقصد جوړ کړي.

چې کله انسان خپل صلاحيتونه اوپيژني او د هغه صلاحيتونو مطابق د خپل ژوند يو واضحه مقصد مقرر کړي نو بيا هغه د خپل مقصد مطابق ترقي کوي، نورو خلقو ته نه ګوري بلکه خپلو صلاحيتونو بهتر کولو باندې توجه ورکوي، په دې باندې د يو مثال په ذريعه ځان پوهه کړئ، هغه داسې چې: يو کس دے چې د هغه کور په کراچئ کښې دے او هغه کار په لاهور کښې کوي، چې کله ورته د کار نه رخصت ميلاو شي نو د کراچئ په ګاډي کښې کښيني او خپل کور طرف ته روان شي. آيا تاسو داسې کس ليدلے دے چې د هغه کور په کراچئ کښې وي خو هغه اسلام آباد طرف ته تلونکو ته کتلو باندې په احساسِ کمترئ کښې اخته کيږي او وائي چې د فلاني څه ښکلے قسمت دے چې اسلام آباد ته روان دے او زه عاجزه کراچئ ته روان يم؟ داسې نه کيږي، په داسې خبرو کښې خلق په احساسِ کمترئ کښې نه اخته کيږي، ولے نه اخته کيږي؟ په دې وجه چې هغه ته پته ده چې زما کور په کراچئ کښې دے، زه به کراچئ ته ځم، ځکه هغه د بل ښار د ګاډي د مسافِر په ليدلو په احساسِ کمترئ کښې نه اخته کيږي. نو ځکه چې مونږه خپل صلاحيتونه اوپيژنو، خپله يوه لاره مقرره کړو نو مونږ به خپل منزل طرف ته روان شو او په احساسِ کمترئ کښې به نه مبتلا کيږو.

# د لفظِ رَبّ معنٰی و مفهوم

ياد ساتئ! په دې دُنيا کښې د هر انسان يو خپل جدا اَهَمِّيَّت دے، **اللّٰه** پاك هر يو ته جُدا جُدا صلاحيتونه عطا کړي دي، په دې وجه هر انسان د خپلو صلاحيتونو مطابق کاميابي او ترقي حاصلوي. اوګورئ! **اللّٰه** پاك زمونږه **ربّ** دے بلکه **رَبُّ الْعٰلَمِين** دے، آيا تاسو ته معلومه ده چې د **ربّ** معنٰی او مفهوم څه دے؟ دا د حکمت نه ډکه خبره ده، که مونږه د لفظِ **ربّ** معنٰی اوپيژنو نو د احساسِ کمترئ مسئله به مو ختمه شي. عَلَّامه محمود آلوسي فرمائي: د لفظِ **ربّ** معنٰی ده: تربيت کولو والا او د تربيت معنٰی ده: تَبْلِيْغُ الشَّیءِ اِلٰی کَمَالِہٖ بِحَسْبِ اِسْتِعْدَادِہِ الْاَزَلِیِّ شَيْئاً فَشَيْئًا يعني هر څيز د هغه [څيز] د قدرتي صلاحيتونو مطابق په قلاره قلاره د کمال مرتبے ته رَسَوَل.[1] نو [د دې تعريف مطابق به] د لفظِ **ربّ** معنٰی دا جوړه شي: هر څيز د هغې د قدرتي صلاحيتونو مطابق د کمال مرتبے ته رَسَوَلو والا.

معلومه شوه چې **اللّٰه** پاك هر څيز ته قُدرتي طور جُدا جُدا صلاحيتونه عطا کړي دي او هر څيز د هغه [څيز] د قُدرتي صلاحيتونو مطابق کمال ته رَسَوي. مثلاً د آم وَنه هميشه آم نيسي، اَمرود نه نيسي، د منڼے ونه منڼے نيسي، آمونه نه نيسي، لِهٰذا د آم د زَړِی نه د آم وَنه را زرغونول، بيا په هغې کښې آمونه لګول، دا رَبُوبِيَّت دے، او که د آم په وَنه کښې د آمونو په ځائے منڼے اولګي نو دا د **اللّٰه** پاك قُدرت دے. بهرحال په

1 ...تفسیر روح المعانی، پارہ:1، سورۃالفاتحہ، زیرِ آیت:1، جزء:1، جلد:1، صفحہ:104۔

دې دُنیا کښې هر څیز د هغه [څیز] د فطري صلاحیتونو مطابق مخ په ترقئ ځي او کمال ته رَسي.

## تولو ته د قابلیَّت مطابق اسباب میلاویږي

زمونږ خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: کُلّ مُیَسَّرٍ لِمَا خُلِقَ لَہٗ یعنې هر یو [څیز] ته هغه څیز مُیَسَّر دے، د څه د پاره چې هغه پیدا کړے شوے دے.[1]

یعنې چا ته چې کوم طبیعت عطا کړے شوے دے، چا ته چې فطري طور کوم قابلِیَّت ورکړے شوے دے، هغه ته د هغه د قابِلِیَّت مطابق اسباب هُم ورکړے شوي دي.[2]

معلومه شوه چې په دې دُنیا کښې د هر یو قابلیَّت او فطري صلاحیتونه جُدا جُدا دي نو هر یو ته اسباب هم جُدا جُدا ورکولے کیږي. نو بیا مونږه ولے نورو ته ګورو او په احساسِ کمترئ کښې مبتلا کیږو چې فلاني ته دا نِعمَت حاصل دے، ما ته ولے نه دے حاصل. وروره، غور اوکړه! د هغه فطرت جُدا دے نو نعمتونه هُم ورته هم جدا میلاؤ دي، ستا فطرت بل شان دے، تا ته ستا مطابق نعمتونه میلاؤ دي یا په نورو الفاظو کښې به داسې اُووائیو چې د چا کور په کراچئ کښې دے هغه د کراچئ په ګاډي کښې ناست دے او د چا کور چې په لاهور کښې دے هغه د لاهور په ګاډي کښې ناست دے نو په دې کښې احساسِ کمترئ کښې د مبتلا کیدو څه خبره ده...؟

---

1 ...ابوداؤد، کتاب:السنة، باب:فی القدر، صفحه:741، حدیث4709۔

2 ...فیض القدیر، جلد:5، صفحه:45، حدیث:6358۔

ځکه مونږ له پکار دي چې خپل صلاحيتونه اوپيژنو او بيا د خپل ژوند واضحه مقصد مُعَيَّن کړو او د هغې مطابق محنت شروع کړو. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! کاميابي به راته حاصله شي.

## خپل صلاحيتونه پيژندونکي يو څو عظيم انسانان

د کروړاؤ حنفيانو اِمام، اِمامِ اعظم، اِمام اَبوحَنِيفه نُعمان بِن ثابِت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير لوئ اِمام دے، تابعي بُزُرګ دے، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به اوَّل تجارت کولو، يوه ورځ د اِمام شَعبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره مُلاقات اوشو، اِمام شَعبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کله د اِمام ابوحنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ذَهانت [عقلمندي، هوښياري] اوليدله نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته ئې د علمِ دِين زده کولو او د علمائے کرامو په صُحبت کښې د کښيناستلو مشوره ورکړه. بس هُم دا موقع وه چې اِمام ابوحنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تجارت پريښودو او علمِ دين زده کولو کښې مصروفه شو څه موده پس هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دې مقام ته اورسيدلو چې د خپلې زمانے د ټولو نه لوئ مُفتي، لوئي امام او مُجتَهِد جوړ شو.[1]

اِمام بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د علمِ حديثِ لوئ امام دے، د هغوئي ليکلے شوے د حديثو مشهور کتاب **بُخاري شريف** د ډيرې اوچتې مرتبے کتاب دے، د اِمام بُخاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه عمر مبارك لس کاله وو چې هغوئي ته د خپلو صلاحيتونو اندازه اوشوه. هغوئي محنت کول شروع کړو، لا وړوکے وو چې اويا زره احاديث ئې زباني ياد کړي وو.[2]

---

1 ...الخيرات الحسان، صفحه:37۔
2 ...هِدايةُ السّارِی، جلد:1 ، صفحه:49۔

مُحَدِّثِ اعظم پاکستان مولانا سردار احمد صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ډيرې اوچتې مرتبې انسان دے، هغوئي د انټر ميډيټ (يعنې دولسم جماعت) طالبِ علم وو، يوه ورځ د لاهور په جامع مسجد وزير خان کښې يوه جلسه منعقد شوه، په هغه جلسه کښې د اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه صاحبزاده حُجَّةُ الاسلام مولانا حامِد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تشريف راوړے وو، مُحَدِّثِ اعظم پاکستان مولانا سردار احمد صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه وخت د لږ عمر وو، هغوئي هم په هغه جلسه کښې شريك شو، په دغه موقع هغوئي د حضرت مولانا حامِد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ديدار اوکړو او د هغوئي د لاسونو ښکلولو سعادت ئې هُم حاصل کړو، بس د ولیِّ کامِل د دِيدار کولو برکت وو چې د مولانا سردار احمد صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د زړه دُنيا بدله شوه، هغوئي د جلسے نه پس د حُجَّةُ الاسلام مولانا حامِد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چې نور زما دُنياوي علم سره شوق پاتې نه شو، زه علمِ دِين حاصلول غواړم. حُجَّةُ الاسلام مولانا حامِد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغوئي د ځان سره بريلي شريف ته بوتلو، هلته هغوئي مسلسل علمِ دين حاصلولو، تر دې چې هغه وخت راغے چې مولانا سردار احمد صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د **مُحَدِّثِ اعظم پاکستان** په لقب مشهور شو او په علم و عمل کښې ئې اوچته مرتبه حاصله کړه. د مُحَدِّثِ اعظم پاکستان مزار مبارك د پنجاب ښار فيصل آباد کښې دے.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! معلومه شوه چې د چا څنګه فطرت دے، هغه ته

[1] ...حياتِ مُحدّث اعظم، صفحه:3433۔

هغه شان اسباب په لاس ورځي، مونږ له پکار دي چې مونږه د نورو سره خپله موازنه نه کوو بلکه خپل صلاحيتونه اوپيژنو، په دې دُنيا کښې خپل جُدا اَهَمِّيَّت اوپيژنو او د هغې مطابق مخ په وړاندې د تللو کوشش اوکړو. که مونږه خپل ځان او خپل صلاحيتونه اوپيژنو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيْم! د احساسِ کمترئ نه به بچ پاتې شو. **الله** پاك دِ مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## 3. محنتي جوړ شئ....!

اے عاشِقانِ رسول! په احساسِ کښې د مبتلا کيدو دريمه غټه وجه **خوش فهمي** ده. په احساسِ کمترئ کښې اخته کيدونکي اکثر خلق بهانے جوړوي، هغوئي کله کله خپله سُستي او ناراستي د احساسِ کمترئ په بهانه پټوي، يعنې په حقيقت کښې هغوئي پوره محنت نه کوي، او چې محنت نه کوي نو ښکاره خبره ده چې کاميابي به نه شي حاصلولے، او بيا چې کله ورته کاميابي نه حاصليږي نو په احساسِ کمترئ کښې اخته کيږي، داسې ډير خلق بيا دا وائي چې: **جناب! ما ډير محنت اوکړو خو ما ته هغه مقام ميلاؤ نه شو د کوم چې زه لائق ووم.** داسې خلق چې څنګه محنت کوي، که هغوئي د دې په تحقيق سره جائزه واخلي نو معلومه به شي چې په حقيقت کښې هغوئي پوره محنت نه کوي، ځکه ناکامه پاتې شي. بعضې اسلامي ورونړه چې مُبَلِّغِينو ته ګوري نو په احساسِ کمترئ کښې اخته شي. مثلاً فلانے اسلامي ورور ډير ښکلے بيان کوي، زه خو درس هم نه شمورکولے. فلانے اسلامي ورور چې چرته لاړ شي نو هلته ښه په زور او شور سره 12 ديني کارونه شروع شي، زه خو يو ديني کار هُم نه شم کولے. دغسې هغه په

احساسِ کمترئ کښې اخته شي. خو که د هغه نه تپوس اوکړے شي چې **وروره**! تاسو کله د درس و بيان د پاره محنت کړے دے؟ نو کيدے شي چې په جواب کښې اُووائي چې، نه تياري خو نه کووم. او که دا تپوس ترينه اوکړے شي چې تاسو هره ورځ ديني کارونو ته څومره وخت ورکوئ؟ نو کيدے شي چې د دې هم تَسَلِّي بخش جواب ميلاؤ نه شي.

**غرض**: په احساسِ کمترئ کښې اخته شوي خلق چې څه حاصلول غواړي، په حقيقت کښې هغوئي د هغې د پاره پوره محنت نه کوي او هسې خپله سُستي او ناراستي په احساسِ کمترئ کښې پټوي.

## هره کاميابي په محنت حاصليږي

ياد لرئ! مونږه چې د کومو کاميابو خلقو د کاميابئ په ليدلو په احساسِ کمترئ کښې مبتلا کيږو هغوئي ته کاميابي په تُحفه کښې نه ده ورکړے شوې بلکه هغوئي محنت کړے دے. کوم کس چې نن کامياب مُبَلِّغ دے، هغه مخکښې مُبَلِّغ نه وو، هغه چې هم په اوَّل ځل بيان کولو نو ښپے به ئې رپيدلې وې، خو هغه خپل محنت مسلسل جاري اوساتو او آخر کامياب شو او ماهِر مُبَلِّغ جوړ شو. دغه شان هر هغه کس چې مونږ ته کامياب ښکاري، هغه د خپلې کاميابئ د پاره ډير زيات محنت او مشقت کړے وي خو مونږه د هغه محنت او مشقت ته نه ګورو بلکه صرف د هغه کاميابئ ته ګورو، او په احساسِ کمترئ کښې اخته شُو.

# د عاليشانه بنګلے اخستلو خواهش

يو غريب کس په لاره روان وو، د هغه نظر په يوه عاليشانه بنګله پريوتلو، ښکلې او عاليشانه بنګله ئې چې اوليدله نو په زړه کښې ئې شوق پيدا شو چې کاش په څه طريقه زه هم داسې عاليشانه کور جوړولو کښې کامياب شم، بيا هغهٔ د هغه عاليشانه بنګلے دروازه اوډبوله. نوکر دروازه بيرته کړه. هغه غريب کس درخواست اوکړو چې زه د دې بنګلے د مالك سره ملاقات کول غواړم. نوکر هغه سړے د بنګلے مالك سره ملاؤ کړو. نو هغه غريب سړي د بنګلے د مالك نه تپوس اوکړو: جناب! زه هم داسې عاليشانه کور جوړول غواړم. د د ې د پاره ما له څه کول پکار دي؟ د بنګلے مالِك ورته په ډيره سادګئ سره جواب ورکړو: د ټافيانو يوه ډبه واخله او په فُټ بارئ [يعنې د سړک په غاړه] کښينه او هغه خرخول شروع کړه! هغه غريب سړي چې دا جواب واوريدو نو حيران شو چې زه خو د ده نه د عاليشانه بنګلے د جوړولو د  طريقے تپوس کووم او دې ما ته د سړک په غاړه د ټافيانو خرڅولو مشوره راکوي، هغه په حيرانتيا سره اووئيل: جناب! زه ستاسو په مطلب پوهه نه شوم. د بنګلے مالِك اووئيل: ساده شان خبره ده، ته زما د کور په شان کور جوړول غواړې، نو خبره دا ده چې ما هُم د ټافيانو خرڅولو نه شروع کړې وه، زه به په فُټ بارئ [يعنې د سړک په غاړه] ناست ووم او ټافيانې به مې خرڅولې، **الله** پاك ما ته د خپل محنت ميوه راعطا کړه، تا ته به ئې هم ضرور عطا کړي.

اے عاشِقانِ رسول! غور اوکړئ! په عاليشانه بنګله کښې اوسيدونکي دُنياوي طور کامياب انسان يوه اوګړده موده مسلسل محنت او مشقت کړے وو. دغه شان چې مونږه هُم چا ته کتلو باندې په احساسِ کمترئ کښې مبتلا کيږو نو مونږ له هم پکار

دي چې په احساسِ کمترئ کښې د اخته کيدو په ځائے د هغه په شان په شوق و کوشش مسلسل محنت اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! کاميابي به زمونږه مقدر جوړه شي. ډاکټر اقبال وائي:

يہی آئينِ قُدرت ہے، يہی اُسْلُوبِ فِطْرَت ہے | جو ہے راہِ عَمَل ميں گامزن، محبوبِ فِطْرَت ہے [1]

**وضاحت**: په دې دُنيا کښې د قدرت دا قانون دے چې هغه کس د فطرت خوښ دے، قُدرت هغه ته عطا کوي څوک چې محنت کوي.

## په انسان او ځناور کښې فرق

مونږه که لږ غور اوکړو نو په انسان او ځناور کښې يو غټ فرق دے. ځناور له چې څنګه جوړيدل وي، نو هغه چې څنګه پيدائش شي نو هُم هغسې وي خو انسان له چې څه جوړيدل وي نو هغه هله هغسې جوړ شي چې کله لوئ شي. د مثال په طور اَس چې کله پيدا شي نو هغه اَس وي او چې لوئ شي نو هم اَس وي، چرته تاسو ليدلي دي چې اَس کله غټ شي نو اِنجينئر يا ډاکټر جوړ شوے وي؟ د دې برخلاف انسان ته چې اوګورئ نو انسان له چې څه جوړيدل وي، هغه دې دُنيا ته د راتلو نه پس چې کله لوئ شي نو جوړ شي.

صرف دوه مرتبے وَهبي دي يعني دا په محنت نه شي حاصليدے: **(1)** يو نَبُوَّت **(2)** دويم وِلايت. دا دواړه مرتبے چې **اللّٰه** پاك چا له اوغواړي عطا کوي او نَبُوَّت خو ختم شوے دے، زمونږ د خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پس به د قيامته پورې يو نوے نبي

[1] ...کلامِ اقبال، بانگ درا، صفحہ: 97۔

هُم نه راځي.

**غرض**: د دې دوو مرتبو نه علاوه نورې تولې مرتبے کَسبي دي. انسان چې کله لوئ شي چې هغه څه جوړيدل غواړي جوړيدے شي، د دې د پاره صرف د دريو څيزونو ضرورت دے: **(1)** يقين **(2)** جذبه او **(3)** محنت

يقيں محکم، عمل پيہم، محبت فاتح عالم | جہادِ زندگانی میں یہ ہیں مردوں کی شمشیریں[1]

**وضاحت**: يعني پوخ يقين، مسلسل **محنت** او رښتيني جذبه، دا درې څيزونه د ژوند په جنګ کښې د تورې کار کوي، چا ته چې دا درې څيزونه حاصل دي هغه به کله هم نه ناکامه کيږي.

## په عَلَّامه تَفتَازَاني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه باندې کرم اوشو

عَلَّامه سَعدُ الدِّين مَسعُود بن عُمَر تَفتَازانی رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه ډير اوچت عالِمِ دِين وو، په درسِ نِظامي (يعني عالِمِ کورس) کښې د هغوئي ليکلې شوې کتابونه لوستلے کيږي. عَلَّامه تَفتَازَاني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه به د قاضي شيرازي صاحب رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه نه علم حاصلولو او په جماعت کښې به د ټولو نه کم ذِهنه ګڼړلے شو. د هغوئي د درجے ملګرو به د کم ذِهنئ په وجه په هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه پورې خندل، د دې باوُجود عَلَّامه تَفتَازَاني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه هِمَّت اُونه بيلو او خپل **محنت** ئې جاري اوساتو، په ډير کوشش او **محنت** سره به ئې سبق يادولو، بيا به ترينه هير شو، بيا به ئې ياد کړو، بيا به ترينه هير شو، دغسې هغوئي رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه خپل **محنت** جاري ساتلو. يو ځل په سبق يادولو کښې مصروفه وو چې يو ناشنا کس راغے

---

[1] ...کلامِ اقبال، بانگِ درا، صفحہ: 454۔

او اوئې وئيل: مسعوده! پاځه! چې سيل له لاړ شو. عَلَّامه تفتَازَاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ورته په جواب کښې اووئيل: **زه د سيل د پاره نه يم پيدا شوے**، هسې هُم د دومره سبق يادولو باوُجود په څه نه پوهيږم نو بيا په سيل کولو کښې خپل وخت ولے برباد کړم؟ دا ئې چې واوريدل نو هغه ناشنا کس لاړو، لږ ساعت پس بيا هغه کس راغے، او بيا ئې سيل له د تللو دعوت ورکړو، هغوئي بيا هُم هغه شان جواب ورکړو، لږ ساعت پس دريم ځل بيا هغه کس راغے او دا ځل هغه اووئيل: تاسو د **اللّٰه** پاك آخري نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غواړي. چې دا ئې خنگه واوريدل نو د عَلَّامه تفتازاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه بدن په لړزان شو او ښپے ابله ښپے ئې د ديدارِ محبوب د پاره ورمنډې کړې. خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښار نه بهر د يو خوش نصيبه ونې لاندې تشريف فرما وو، خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې عَلَّامه تَفتَازَاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه اوليدلو نو مُسکے شولو او اوئې فرمائيل: زمونږه په بيا بيا رابللو هُم ته رانغلې؟ عَلَّامه تفتَازَاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په ډيره عاجزئ عرض اوکړو: **يا رَسُولَ اللّٰه** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ما ته معلومه نه وه چې تاسو مې غواړئ؟ تاسو ته خو زما د کم ذِهنئ علم دے، **يا رَسُولَ اللّٰه** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زه ستاسو په بارگاه کښې د شِفاء طلبگار يم. د عَلَّامه تَفتَازَاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرياد ئې چې واوريدلو نو د رحمت درياب په جوش کښې راغلو او خوږ نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: خپله خُله بيرته کړه! عَلَّامه تفتَازَاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه خپله خُله بيرته کړه نو سرکارِ عالي وقار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل لُعاب مبارك د هغوئي په خُله کښې واچول او دُعا ئې ورته هم اوکړه.

په دويمه ورځ چې کله عَلَّامه تَفتَازَاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه جماعت ته را اورسيدلو نو هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د سبق په دوران کښې د اُستاذ صاحب نه يو څو علمي سوالونه اوکړل. د

هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باريك او علمي سوالونه ئې چې واوريدل نو اُستاذ صاحب، قاضي شيرازي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته اوفرمائيل: اے مسعوده! نن ته هغه نه ئې، کوم چې پرون وې. وايه! څه قِصّه ده؟ عَلّامه تفتازاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اُستاذ صاحب ته خپله ټوله واقعه بيان کړه نو د اُستاذ صاحب په سترګو کښې اوښکې راغلې.[1]

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! [د دِين په لاره کښې] محنت کوونکو خوش بختو باندې بعضې وخت داسې مهربانئ هم کيږي. **اللّٰه** پاك دِ مونږ ټول [د دِين په لاره کښې] محنت کوونکي جوړ کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د بيان خلاصه

اے عاشِقانِ رسول! د بيان خلاصه دا ده چې احساسِ کمتري نقصان ورکوونکے مرض دے او د ترقئ او کاميابئ په لاره کښې رُکاوټ جوړيږي، بعضې وخت د مايوسئ او حسد په شان هلاك کوونکو باطِني بيمارو سبب هم جوړيږي. ځکه مونږ له پکار دي چې د **اللّٰه** پاك په رضا باندې راضي اوسو، د هغه شُکر ګزار بندګان جوړ شو، **اللّٰه** پاك چې کوم نِعمتونه مونږ ته راکړي دي، هغې ته تَوَجُّه اوکړو، که مونږه د خپلې محرومئ ژړاګانې کوو او څه محنت نه کوو نو په نُقصان کښې به ګير شو، هميشه د **اللّٰه** پاك درکړو شوو نِعمتونو باندې سوچ کوئ او د هغه شُکر ادا کوئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيْم! نيکئ به هُم درنصيب شي او که **اللّٰه** پاك اوغواړي نو په نِعمتونو کښې به مو اضافه هم اوشي او د دې سره به مونږه خپل صلاحيتونه هُم اوپيژنو، د ژوند يو واضحه مقصد جوړ

---

[1] ... حافظہ کیسے مضبوط ہو؟ صفحہ: 119-121۔

کړېٔ او په **اللّٰه** پاك تَوَكُّل ساتئ او پوره محنت اوکړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! کاميابي به درته نصيب شي او د احساسِ کمترئ نه به درته خلاصے هُم نصيب شي.

**اللّٰه** پاك دِ مونږه محنتيان، شُکرگزاره او په خپله رضا باندې راضي اوسيدونکي جوړ کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار مدرسةُ المَدينه: د اسلامي ورونړو د پاره

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د قرآنِ کريم سره محبت کولو، د قرآنِ کريم د تلاوت کولو، په قرآنِ مجيد باندې د ځان پوهه کولو، او د عمل کولو جذبه حاصلولو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريك دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته شئ او 12 ديني کارونو کښې د زړه په اِخلاص حِصَّه واخلئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! د دِين و دُنيا بيشميره برکتونه به حاصل کړئ. **ياد ساتئ!** د ذِيلي حلقے په دولسو ديني کارونو کښې يو د روزانه ديني کار **"مدرسةُ المَدينه"** (د اسلامي ورونړو د پاره) هم ده.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي زيرِ اهتمام په جماتونو، سکولونو، کالجونو او مارکيټونو وغيره کښې لګيدونکي مدارسُ المَدينه کښې اسلامي ورونړو ته د تجويد سره د قرآنِ کريم د ناظره تعليم ورکولے کوي. او ورسره ورسره د بنيادي ضروري احکامو او مسائلو او سُنتونو او آدابو تعليم هم ورکولے کيږي.

## فيشن پرست د سُنتونو عامِل جوړ شو

د بلوچستان د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې زه د دعوتِ اسلامي ديني ماحول سره وابسته کيدو نه مخکښې زه فيشن پرست ووم، نه مې په مخ ږيره وه او نه

مې په سر باندې عمامه وه، د سُنَّتو د لارې نه لرې د دُنيا په محبت کښې مست ووم او خپل قيمتي ژوند مې په بےعملۍ او جهالت کښې تيرولو. زما په ژوند کښې د دِين شمع داسې روښانه شوه چې يوه ورځ يو اسلامي ورور ما ته تجويد سره د قرآنِ مجيد لوستلو ذِهن راکړو، د ماسخُتن د لمَانځه نه پس لګيدونکې د اسلامي ورونړو په مدرسةُ المَدينه کښې د شريك کيدو دعوت ئې راکړو، ما د هغه د نيکۍ دعوت قبول کړو او په مدرسةُ المَدينه کښې مې شرکت شروع کړو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دې په برکت ما د تجويد سره قرآنِ کريم زده کړو او فيشن پرستي مې پريښوده د سُنتو عامِل جوړ شوم.

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. يوه ورځ تاجدارِ رِسالت، شَهَنْشاهِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې ځله اِرشاد اوفرمائيلو: "زما په نائب دِ د الله پاك رحمت وي، عرض اوکړے شو: حُضُور! ستاسو نائب څوك دے؟ اوئې فرمائيل: زما د سُنَّتو سره محبت کوونکي او نورو ته زده کوونکي. (1)

| | |
|---|---|
| سُنّت کے مطابق میں ہر اِک کام کروں کاش! | تُو پیکرِ سُنَّت مجھے اللہ بنا دے(2) |
| اے کاش! زما هر کار شي د سُنَّتو مطابق | پيکر کړې د سُنَّتو ما، زما خوږه مَولٰی |

## د سلام کولو سنتونه او آداب

**فرمانِ مصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: اَلسَّلَامُ قَبْلَ الْكَلَامِ سلام کول د خبرو کولو نه

1...جامع بيانِ عِلم، بَابُ:عِلم کے فضائل، جلد:1صفحه:201، حديث:220۔

2...وسائل بخشش، صفحه:118۔

مخکښې دي.[1]

خورړو او محترمو اسلامي ورونړو! مسلمان سره د ملاقات په وخت سلام کول سُنَّت دي. ❁ د **سلام** کولو په وخت کښې په زړه کښې دا **نِيَّت** پکار دے چې چا ته **سلام** کووم د هغه مال او عِزَّت او پرده ټول زما په حِفاظَت کښې دي او زه په دې څيزونو کښې دَخل اندازي کول [کار لرل] **حرام** ګنړم. ❁ که په ورځ کښې هر څو ځله ملاقات کيږي، که د يوے کوټے نه بلې کوټے ته بيا بيا تلَل راتلَل وي، هلته موجودو مسلمانانو ته **سلام** کول د ثواب کار دے. ❁ په **سلام** کولو کښې د بل نه **مخکښې** کيدل سُنَّت دي. ❁ په **سلام** کښې **مخکښې** کيدلو والا د **الله** پاك مُقَرَّب (يعني نزدې بنده) دے. ❁ په **سلام** کښې **مخکښې** کيدلو والا د تَکَبُّر نه بَري (يعني آزاد) دے څنګه چې د **الله** پاک آخري نبي **مُحَمَّد عَرَبِی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: وړومبے سلام وئيلو والا د تَکَبُّر نه بري دے. ❁ [مخکښې] **سلام** کوونکي باندې 90 رحمتونه او په جواب ورکوونکي باندې 10 رحمتونه نازليږي.❁ **اَلسَّلَامُ عَلَيۡکُمۡ** وئيلو باندې 10 نيکئ حاصليږي. او که ورسره **وَرَحۡمَةُ اللهِ** اُووائې نو 20 نيکئ به شي. او که **وَبَرَکَاتُهٗ** ورسره شامل کړئ نو 30 نيکئ به شي. ❁ بعضې خلق د سلام سره د "**جَنَّتُ الۡمقَام** او **دُوزَخُ الحرام**" الفاظ زياتوي، دا غلطه طريقه ده. او دا جمله د لُغَت په اِعتبار سره هم غلطه ده.

1 …ترمذی، کتاب:الاستئذان، باب:ماجاء فی السلام قبل الکلام، صفحه:635، حديث:2699۔

اِمام احمد رضا خان په فتاوٰی رضویه جلد 22 صفحه 409 کښې لیکي: کم نه کم اَلسَّلامُ عَلَیۡکُمۡ او د دې نه غوره ورسره وَ رَحۡمَۃُ الله وئیل او د ټولو نه غوره وَ بَرَکَاتُہٗ شامِلَوَل او په دې باندې زیاتوالے نشته. که هغه اَلسَّلَامُ عَلَیۡکُمۡ اووائي نو دا دِ وَعَلَیۡکُمُ السَّلَام وَ رَحۡمَۃُ اللهِ اووائي. او که هغه اَلسَّلامُ عَلَیۡکُمۡ وَ رَحۡمَۃُ الله اووئیل نو دا دِ وَعَلَیۡکُمُ السَّلَام وَ رَحۡمَۃُ الله وَ بَرَکَاتُہٗ اووائي او که هغه وَ بَرَکَاتُہٗ پورې اووئیل **نو دا دِ هم دومره اووائي ځکه چې په دې زیاتوالے نشته.** ❁ د **سلام** جواب فوراً او په دومره اواز کښې ورکول واجب دي چې **سلام** کوونکے ئې واورې. ❁ **سلام** او د **سلام** د جواب صحیح تَلَفُّظ یاد کړئ. اول ئې زه وائم تاسو ئې واورئ او بیا ئې اووائي: اَلسَّلامُ عَلَیۡکُمۡ (اَسْ.سَلا.مُ .عَلَیۡ.کُمۡ) اوس زه جواب وائم بیا ئې تاسو اووائي: وَعَلَیۡکُمُ السَّلام (وَ.عَ.لَیۡكُ.مُسْ.سَلام).

مختلف سُنَّتونه او آداب زده کولو د پاره د مَکۡتَبَۃُ الۡمَدِینه بهارِ شریعت جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شیخِ طریقَت، اَمیرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الیاس عطّار قادِری دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَۃُ د 100 صفحو کتاب 550 سُنّتیں اور آداب واخلئ او اولولئ ئې. د سنَّتو زده کولو یوه ذریعه د دعوتِ اسلامي په مَدَني قافلو کښې عاشقانِ رسول سره د سُنَّتو ډك سفر هم دے. **الله** پاك دِ مونږ ټولو ته د عمل کولو توفیق راکړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِي الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ ملخصًا

### ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته کړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

### ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

### ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حيران شو چې دا خوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

---

1...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

3...القول البديع، الباب الاول، ص۱۲۵

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْھُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْکَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

---

1... الترغيب والترهيب، کتاب الذکر و الدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة... الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵